مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۴/۰۹

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۶۳ مه پرله پسي برخه

کابل

او د افغانستان سویل – ختیځ

ایدیت:

ډاکتر لودویگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**نـــرَنگ**: [1]: ۴۵ – ۳۴، ۳ – ۷۱ «الف»: نرنگ د ننگرهار د ولایت یوه علاقه داري ده چې ۱۶۴ کیلومتر مربع مساحت لري او د وگړو شمـېـر ئـې چې بزگرې پرگنې دي د ۵۷۹۶ تر ۷۷۰۵ تـنو تر منځ اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ لوري له پیچ او څوکی، له ختیځ او سویل ختیځ لوریو له سرکانی، او له شمال لوري له اسعد آباد سره کرښه لري. نرنگ څه دباندې ۲۸ کلي لري چې یوازې یو کلی ئـې له ۵۰۰ تنو څخه ډېـر استوگن وگړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نرنگ علیا او سفلی «نرهنگ» | | Narang -i -Ulya and Sufla (Narhang) | | چار قلا | | کدو | |
| شارلو | Sharlo | کلا مار | Kala Mar | غندو | Ghando | لام ټک | Lamtak |
| کوټ گی | Kotgai | قلعهٔ نو بادل «قلعهٔ وانه بادل» | | Qala -i -Nau Badil (Qala Wana Badil) | | سوبه غنډی «چوبه غنډی» | |
| Soba Ghundi (Ch oba Ghundi), | | کوزه غونډی | | وانه کلا | | امیر خان | |
| املوک مینه | Amluk Mina | شینو کلی «پښتو کلی» | | Shino Kalai (Pashto Kalai) | | قریهٔ لچک | Qarya -i- Luchak |
| لیوَټ | Lewat | کوزړی «کوزه دي بندی» | | Kozalai (Kozah Dai Banday) | | خوشال بانده | |

1- NARANG : ددې نوم مخ ته ئـې په عربي الفباء «نارنگ» لیکلي دي. - ژ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنـې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خداګاش | Khudah Gash | احمد خان مینه | | باج ګل | Bajgul | قریـهٔ قارغان | Qarya-i-Qarghan |
| کوچیانو بـیـله | Kuchiano Bela | ادوال «اتوال» | Adwal (Atwall) | خه له تک | Khalatak | غازي خان | |
| غونډۍ | | قریـهٔ بزرګ | | Qarya -i- Buzurg. | | | |
| (لودویګ آدمک) | | | | | | | |

دا سیمه په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:

لوړوالی: ۲۶۰۰ فیټه. نرنګ یا «بَر نرنګ» [2] د کونړ د سیند په ښی غاړه کې له جلال آباد څخه ۴۷ مایله لیرې له دوه وو کلیو څخه جوړ دی. دره دلته پراخه ده او د سیند په دواړو غاړو کې د هموارې ځمکې ارتوالی د مایل ۴/۳ دی. د «کوز نرنګ» [3] کلي تقریباً ۳ مایله کوز د سیند پر غاړه موقعیت لري. (کولد ستریم)

**نرګس:** وګورئ: نرګس: ۲۳ – ۳۴، ۵۲ – ۶۶ «الف»

**نـارګوزي:** [4]: ۱۵ – ۳۴، ۵۲ – ۶۹ «ج»: دا د خوګیانیو په سیمې کې یو کلی دی چې د ګندمک د سویل لویدیځ په شاوخوا ۹ مایلۍ کې موقعیت لري. دا ځای د ۱۸۸۰ز کال د جولای د میاشتې په شپږمې نیټې د برتانوي ځواکونو له پلوه ونیول سو او وسوځول سو، برتانوي ځواکونه د برید جنرال برایت تر بولنې لاندې په هم مهاله توګه له پیزوان او سفید ښنګه راوخوځیدل او همدې کلي کې سره یو ځای سول او دا کلی ئـې وسوځاوهٔ. د میرځمن ۵۸ تنه ووژل سول ؛دا دښمن ته داسې سبق ورکول ول چې نور به هـېڅکله پر سرک باندې کوچني غلچکي بریدونه ونـهٔ کړي. (آی. بي. سي)

**نـاړی:** [5] : – ۳۴، – ۶۹: دا د جلال آباد د ولسوالي د حصارک په علاقه دارۍ کې یو کلی دی. استوګن وګړي: شینوار. (جنکینز) په دې نوم یو کلی په ۱۳ – ۳۵، ۳۲ – ۷۱ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

* **نړی:** یا: ناړی: [6]: ۴۳ – ۳۳، ۵۸ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د پاکستان پولې ته نـبـږدې د ځمکنیو په سویل ختیځ کې یو کلی دی.

**نـاړی:** نصرت: یا: نالی: [7]: ۱۳ – ۳۵، ۳۱ – ۷۱ «ن»: لوړوالی: ۳۰۰۰ فیټه. دا د کونړ د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې یو کلی دی چې د ځمکې له هموارې سطحې څخه ۱۵۰ فیټه لوړ له «ارنوی» [8] څخه ۸ مایله کوز موقعیت لري. دا کلی ۱۰۰ کورونه لري او د بریکوټ د کورونو په شان جوړ سوی دی یوازینۍ استثناء په کې دا ده چې دلته د کورونو تر منځ کوڅې نسبتاً پراخې دي. د ونو د ښاخونو لرزیدونکي پلونه دا کورونه له یو بل سره نښلوي. له یو بل سره د نښتو بامونو بامبتۍ په ځینو ځایونو کې ان ۶ فیټه لوړې دي خو په ۱۸۹۱ز کال کې اکثریت ئـې رالویدلي او خرابې سوې وې؛ یو ګڼ شمـېـر ئـې تـېـرکښونه لري. د کلي په بلافاصله شمال کې یوه مربع ډوله کلا ده چې د چترال د کلاګانو معمولي

---

[2] -Bar Narang
[3] -Kuz Narang
[4] -NARGOZAI
[5] -NARI
[6] -NARI Or NARAI
[7] -NARI Or NASRAT, NALAI
[8] -Arnawai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بنه لري چي په ۱۸۹۱ز کال کي مرحوم مهتر امان الملک ودانه کړي وه. په پای کي دا کلا د جندول د عمرا خان لاس ته ولویدله، خو دا کلا اوس د افغانستان په خاوره کي ده. د کونړ د سیند له پاسه یو پیاوړی لرگین پل دی چي د کلي په بلافاصله مقابل لوری کي واقع دی؛ دا پل د باروړونکو څارویو لپاره مناسب دی او له همدي پلـۀ څخه د سیند په ښی غاړي کي بریکوټ ته لاره تللي ده؛ دا لاره له بریکوټ ته ځان د باشگل درې ته رسوي. له ناړی څخه یوه لاره «نري گل» [9] او «ډولی درې» [10] ته تللي چي د «ډولی» [11] د کوتل له لاري د «مچمانه» [12] له کلي څخه تـېـرېـږي او ځان «براول» [13] ته رسوي. (رابرتسن، آی. بي. سي) دا کلی د نالی یا ناړی د علاقه داری په مرکز کي نـۀ دی. وگورئ: نالی. (لودویگ آدمک)

**ناړی جبار**: دا د گندمک د لویدیځ په ۴ مایلی کي د خوگیانیو په سیمي کي یو کلی دی. (آی. بي. سي)

**ناصر: یا: ناسر**: ۲۶ – ۳۴، ۵۴ – ۶۹ «الف»: مک موهن وایي: « دا د پوونده یوه قبـیـلـه ده چي مدعي ده د غلزیو یوه قبـیـلـه ده او د غلزیو د توران په ویش پوري اړه لري. په خپله غلزي د ناصرو دا ادعا رد کوي او وایي چي د دې قبـیـلـي بنسټ ایښودونکی ناصر یا ناسر د توخیانو «همسایه» [14] وو. »

«یو شمـېـر سرچیني وایي چي ناصر یا ناسر درې زامن درلودل :

| | |
|---|---|
| ۱ | تره کی |
| ۲ | سپینکی |
| ۳ | سورکی |

او د دې اولاده «تی، سپین او سور» [15] یعني «تور، سپین او سور» ناصر [16] دي. خو دا ډېـره گرانه ښکاري چي اوس دې څوک ثابت او ثقه معلومات تر لاسه کړي چي د دغو قومي څانگو سرچینه چیري ده او د دې قبـیـلـي اوسنی څانگي او فرعي څانگي په کوم یوۀ پوري اړه لري.


«له ډېـر څیړنو او پلټنو وروسته زه فکر کوم لاندنی شجره چي وړاندې کوم ئـي ښایي د دې قبـیـلـي تقریباً صحیح شجره وي. موږ به وروسته وگورو چي دا قبـیـلـه له دریو برخو یعنی «مالي زیو/ مـَـلـي زیو»، «عمرزیو» او «ناصرزیو» [17] څخه جوړه سوې ده.

(وگورئ: شجره په راتلونکي پاڼي کي)

---


[9] -Nari Gul
[10] -Dolai dara,
[11] -Dolai
[12] -Machmana,
[13] -Baraul
[14] -hamsayah
[15] -Tai, Spin and Sur
[16] -Black, White, and Red Nasirs
[17] -Mallizais, Umarzais and Nasirzais


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ




جلال خيل په لاندي څانګو ويشل سوي دي:

وګورئ: شجره په راتلونکي پاڼي کې




«د جلال خیلو د ځانګې قومي مشر عبدالله خان نومېږي چې د ښادي خان خیلو له ځانګې څخه دی. همدا شان نوموړی د ناصر د قبیلې مشر هم دی. د قبیلې شمېر نېږدې ۶۰۰ تنه جنګیالي دي.»

«لالو خیل او عالم خیل په دوبي کې آبِ ایستاده ته نېږدې میشت کېږي او په ژمي کې د «دیرهٔ اسمعیل خان» [18] د «کولاچي په تحصیل» [19] کې اړوي.»

« ښادي خان خیل دوبي په «تیروې» [20] او آبِ ایستاده ته نېږدې او ژمي په «چاودوان» [21] کې تېروي. »

«عالم بیګ خیل دوبي په آبِ ایستاده او «کشاتو» [22] کې او ژمي د «دیره جات په کچې» [23] کې تېروي.»

«چوبر خیل له ښادي خان خیلو سره ګډ ځي.»

«سلیمان خیل نیمايي ئې له لالو خیلو او نیمايي ئې له ښادي خان خیلو سره ځي.»

«پړوَټ په دوبي کې په «زنګاله» [24] کې او ژمی په دیره جات کې په «زرکوني» [25] کې وي.»

«برخیل، په دغو ځانګو ویشل سوي دی: ۱ – بابکر خیل، ۲ – بریام خیل [26] او ۳ – سرور خیل

---

18 -Dera Ismail Khan
19 -Kulachi tahsil of Dera Ismail Khan
20 -Tirwah
21 -Chaudwan
22 -Keshatu
23 -Derajat Kachi
24 -Zangala
25 -Zarkunni in the Derajat
26 -Bariam Khel


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

«دوی شاوخوا ۴۰۰ تـنه جنګيالي لري. دوی ځمکه نـهٔ لري. په پخوا وختونو کي دوی د «ناور» او «آبِ ایستاده» په ګاونډ کي اوسیدل خو د غلزیو له بغاوت وروسته دوی د دوبي په میاشتو کي د «کشاتو» او «تیوری» تر منځ میشت کـېـږي او په ژمي کي دیره جات ته ځي. د قبـیـلي اوسنی قومي مشر احمد خان نومېـږي چي بابکر خیل دی. دوی هم ځمکي نـهٔ لري خو پخوا ئـي په «وانو»، «سپین» او «ګل کچ» [27] او نورو کي کرهنه کوله.

«اصغرخیل تر ۱۶۰ تنو پوري جنګيالي لري او له جلال خیلو سره یو ځای اوسېـږي.»

«سالاک خیل تقریباً ۳۰۰ تنه جنګيالي لري. دوی هم له جلال خیلو سره یو ځای اوسېـږي.»

«زنګي خیل په لاندي څانګو ویشل سوي دي:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | سور | Sur |
| ۲ | خیري خیل | |
| ۳ | سَروخیل | Saru Khel |
| ۴ | ابراهیم خیل | |
| ۵ | خواجه محمد خیل | |

«د دوی د جنګیالیو شمـېـر شاوخوا ۴۰۰ تـنه دی. دوی دوبی «دو چیني» [28] ته نیـږدي په «غنډغز» [29] او «چینجي زام» [30] او «تـېـروې» [31] کي تـېـروي او په ژمي کي په دیره اسمعیل خان کي د «کولاچي» [32] سرحد کي په «زیـړواني» [33] کي تـېـروي. دوی «غنډ غز» ته نیـږدي ځمکي او دوه کاریزونه لري خو په نورو ځایونو کي ځمکي نـهٔ لري.

«یحیی خیل ویل سوي چي ۶۰۰ تـنه جنګيالي لري. دوی په دوبي کي په «غندان» [34] او په ژمي کي په دیره جاتو کي وي.»

«اشي خیل ۴۰۰ تنه جنګيالي لري. د دوی مشر پیر محمد نومېـږي.»

«دوی په دوبي کي په مقر او د «لووانه» [35] په سیمي کي او په ژمي کي د دیره اسمعیل خان په ولسوالي کي په «دره بند» یا «سیبي» [36] کي تـېـروي.»

«کمال خیل دوبی په «ژوب» [37] او «پښین» [38] کي او ژمی په «دره بند» [39] کي تېـروي او نور ئـي سیبي « تهل – چوتیالي» [40] او «دیره غازي خان» [41] ته ځي.

---

27 -Wano, Spin, Gulkach
28 -Dochina
29 -Ghundghaz
30 -Chinjezam
31 -Tirwah
32 -Kulachi
33 -Zerwani
34 -Ghundan
35 -Lowana
36 -Sibi
37 -Zhob
38-Pishin
39-Draband
40 -Sibi, Thal -Chotiali
41 -Dera Ghazi Khan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

« بوري خيل [42] دوبی په «ړوب» او «پښين»کې تــېــروي او په ژمي کې يو شمــېــر ئـې «دره بند» او نور ئـې سيبي « تهل – چوټيالي» او «ډيره غازي خان» ته ځي.
«نعمت خيل دوبی په ړوب او پښين کې تــېــروي او په ژمي کې يو شمــېــر ئـې دره بند او نور ئـې سيبي « تهل – چوټيالي» او «ډيره غازي خان» ته ځي.
«موسي زي دوبی په زنگاله کې او ژمی په دره بند کې تــېــروي.»
«ښادي زي دوبی په پښين کې او ژمی په دره بند کې تــېــروي.»
«داؤود خيل په پورتــنـی شجرې کې نـهٔ دي ياد سوي. ويل کــېــږي داؤود خيل په اصل کې ناصر دي خو يوازې د ناصرو «همسايه» دي.دوی ځانونه «رغمي/ راغمي» [43] بولي. دوی د ناصرو د قبـيـلي د نورو ښانگو د وګړو په پرتلې ډېــرې ځمکې لري. د دوی ځمکې په غندغز کې دي.»
ښاغلي لمسدن وايي چې ناصرو يوازې ۱۸۵۰ کورنۍ دي او په دغو ښانگو ويشل سوي دي:

| د کــېــږديو شمــېــر | نوم | |
|---|---|---|
| ۲۰۰ | جلال خيل «د ښانګي مشري لري» | |
| ۱۰۰ | برخيل | |
| ۷۰ | عالم بيګ خيل | |
| ۸۰ | Chula Khel | چوله خيل |
| ۱۰۰ | Banu Khel | بنو خيل |
| ۸۰ | يحيی خيل | |
| ۱۵۰ | زنګي خيل | |
| ۲۰۰ | کمال خيل (۱) | |
| ۵۰ | کمال خيل (۲) | |
| ۲۰۰ | Ush Khel | اوښ خيل |
| ۲۵۰ | داؤود خيل | |
| ۱۰۰ | موسي زي (۱) | |
| ۶۰ | موسي زي (۲) | |
| ۶۰ | Saro Khel | سرو خيل |
| ۷۰ | نعمت خيل (۱) | |
| ۸۰ | نعمت خيل (۲) | |

ناصر د پوونده د قبـيـلي په منځ کې يو ډېــره پياوړې ، ډېــره بډايه او شتمنه ښانګه ده او د جبارخيلو د ښانګي مشر په عام ډول د وروړګلوی د ټولي ټولني د ټول مشر په توګه هم ګڼل کــېــږي. پورته مو يادونه وکړه چې لمسدن د دوی شمــېــر د اټکل له مخې ۱۸۵۰ کورنۍ ښيي. براد فوټ فکر کوي چې د دوی شمــېــر ۵۰۰۰ کورنۍ دی، الفنستن وايي د دوی شمــېــر ۱۲۰۰۰ کورنۍ دی، حال دا چې د «شمال – لويديځ – سرحد ګزيټر» د ناصرو د ښانګي ټول شمــېــر له ۳۰۰۰ تر ۴۰۰۰ کــېــږديو پورې ښيي چې ښايي ۸۰۰۰ تـنـه وي. همدا شان وګورئ د پوونده تر سرليک لاندې معلومات.

42-Bori Khel
43 -Raghmai.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ

ویل کـېـږي چي ناصر د خپلو څارویو د پیولو د حق د ترلاسه کولو لپاره په مارغه کي د توران غلزیو مشر ته په کال کي ۳۰۰۰ روپۍ خراج ورکوي؛ ناصر دا شمــېــر د کــېـــږدیو پر ډلو باندې د هري کورنۍ د اوښانو، غوایانو، غواګانو، پسونو او وزو د شمــېــر په اندازي ویشي. په دوی کي نادارو او غریبي کورنۍ چي هره کورنۍ ئـي له پینځو شپږو اوښانو ډېــر نــهٔ لري، سره یو ځای کــېــږي او د مالګي سوداګري کوي، دوی دا مالګه د بهادر خیلو له کان څخه تر غزني یا د قلعهٔ غلزایي تر سیمي پوري راوړي او له غلاتو سره ئـې تبادله کوي چي د مالګي د هر بار پرسر د غلاتو دري یا څلور بارونه ترلاسه کوي، د مالګي ارزښت د هماغه وخت د ارزښت له مخي ځای پر ځای محاسبه کــېــږي.

ناصر د پوونده د قبیلـي په اندازې سوداګري نـهٔ کوي، د دوی ژوند ژواک له سره تر پایه د دوی په رمو او پادو پوري تړلی دی؛ د پسونو وړی د دوی د کــېـــږدیو د جوړولو، د دوی د ګلیمونو او بوجیو خام مواد دي، په ګونیو یا بوجیو کي خپل اوړهٔ اچوي؛ د دوی پوستنیونه او نور اقلام د پسونو له پوستکو څخه جوړېــږي؛ د مېــږو له شیدو څخه پوڅه، کوچ او مستي جوړوي او دا د دوی عام خوراک دی او غوښه ئـې یوازینۍ تجمل دی.

د دوی د پسونو تولید او د اوښ وړۍ هم د هغو اقلامو په تبادله کي کارول کــېــږي چي دوی له دباندې څخه ورته اړتیا لري؛ د دوی د کــېـــږدیو او نورو مالونو لېــږد چي کوچیاني ژوندون ورپوري تړلی دی، د اوښانو په وسیلي کــېــږي. د دوی اوښان او پسونه بي شمــېــره دي، او د اقتصاد هره برخه د خوځنده ژوند ژواک له بنې سره منظمه سوې ده چي د څارویو د دومره لوی شمــېــر د خوراک توکو د برابرولو لپاره اړینه ده؛ د دوی کــېـــږدۍ کوچنۍ او سپکي دي؛ د دوی ټوله شتمني یو کمیس او پرتوګ یا دوه جوړه کالي، د اوړو څو بورۍ، پینځه شپږ خاورین لوښي او یو یا دوه برنجي لوښي دي.

دوی په قیافو کوچني، تک تور او بدرنګه دي او په خپل چارچلند کي وحشي او په خپلي ظاهري بڼي کي شډل او خوار ښکاري. خو دوی زښت ډېــر صادق او مهربانه او ډېــر بي آزاره خلک دي.

دوی د مارچ په میاشت کي کله چي د ګومل سیند سیلابي سي له دیره جات راوځي؛ له دیره جاتو څخه د راوتلو دلیل د دوی په وینا دا دی چي د دوی پسونه له خپلو تنکیو سیرلیو سره دي او هغه وري چي په دیره جاتو کي زېــږېــږي د هغو وریو په پرتلي کوچني او ضعیف دي چي په خراسان کي زېــږېــږي یعنی هغه وري چي په خراسان کي وده کوي د دیره جاتو د وریو په پرتلي پیاوړي او تکړه دي.

د دوی د خوځښت یا مارش په هکله د الفنستن شرحه که څه هم نسبتاً رنګینه ده خو ډېره تصویري او ژوندۍ شرحه ده: „دا قبــیله د دښمن وزیرو د سیمي له دوه وو برخو څخه تــېــرېــږي؛ خان او ملکان پریکړه کوي چي کومه برخه دې لومړی لاړه سي. د هري برخي لپاره د راټولیدلو ځای د ګومل د سیند پر غاړه په «کنزور» [44] کي دی؛ دغلزیو د سیمي له بــېلابــېلو ځایونو څخه راټولي سوي ټولي ډلي له همدې ځایه خپل مارش پیلوي. د را ټولیدلو لپاره، د مارش په پیل کي دوی له وچو شدیارو دښتو څخه تــېــرېــږي او هیڅ څوک ورسره په لاره کي نــهٔ مخامخ کــېــږي او په وچو دښتو کي له خپلو هم لارو ملګرو پرته بل څوک نــهٔ ویني؛ خو کنزور ته په رانږــږدې کیدلو سره چي د راټولیدلو ځای دی لاري د دوی د رمو او پادو په ګڼه ګوڼي بندېــږي. دلته لویه ګډوډي رامنځته سي؛ دوه ډلي چي تل له یو بل سره په جګړو کي وي په یوې تــنګي دري کي سره راټولي سي؛ همدا رنګه د بــېلابــېلو ډلو تر منځ نوي شخړي هم د بي صبرۍ له کبله رامنځته

---

44 -Kanzur on the Gumal



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

سي ځکه هر څوک غواړي چې لومړی د کوتل له لارې غرونو ته ورواوړي. لنډه دا چې په کنزور کې د کېږدیو، انسانانو او رمو له شماره وتلې خلک او څاروي وي چې سره راټول سوي وي.

«د دغو راټولو سویو خلکو ټول ټال شمېر ۳۰۰۰۰ دېرش زرو تنو ته رسېږي او ورسره له شماره وتلې رمې او د اوښانو پادې هم وي او سربېره پر دې د دوی د کور وسایل او نور مایملک. تاسو د داسې ګډوډۍ، شور، غالغمال او بې نظمۍ حدس په خپله ووهئ. دوی د ورځې په اوږدو کې یو شمېر دلې لېږي چې واښـهٔ او سون توکي راټول کړي؛ د شپې له پلوه په دغو پړاو پسې درو کې د ګڼو غږونو ازانګې خپرې سي، د رمو او د اوښانو د رمباړو غږونو او د ناصرو شور او سندرو ټولې درې په سر اخیستې وي.»

کله چې د قبـیلې د ویش ټوله برخه سره دلته راټوله سي، مشران ټاکل کېږي او د دیره جات پر لور د خپل پرمختګ لارې چارې تازه کوي. په عین حال کې وزیر له ټول احتیاط او د وحشي جګړې له پټ پټانو سره د دوی راتګ ته ځانونه چمتو کوي؛ د دوی قبـیلې د غرونو په ژورو کې سره راټولېږي، دوی یوه کوچنۍ ډله لېږي چې د کوم کنډو او یا لوړې ډبرې له سره د ناصرو د کتار د ګامونو غږ په داسې متروکې او له وګړو تشې سیمې کې واوري، دوی د ناصرو د ګامونو تر اوریدلو پورې د لوړو ډبرو له سره نظارت ته دوام ورکوي، درې او د ګومل د سیند غاړې په رمو او د انسانانو په کتارونو ډکې وي. ناظرې ډلې د دوی په لیدلو سره خپلو وزیر ته خبر ورکوي او وزیر په بیړه ځانونه په هغو لارو رسوي چې یوازې دوی ته څرګندې دي او د ناصرو په ګڼو وړو کتارونو بریدونه کوي او یا د دښمن د لارې د قطع کولو لپاره کمین نیسي. د خطر په داسې شېبو ورځو کې چې یوه اونۍ یا لس ورځې دوام کوي ناصرو هم خپل غیر عادي چمتووالی نیولی وي؛ د مشرانو قوت او طاقت پر ټولو خپل- منځي دښمنیو غالب کېږي او د مارش نظم او د دفاع وسایل منظموي.

د قبـیلې دا راخوځیدلې برخه ټوله یو ځای او په ګډه پر مخ ځي؛ د جنګیالیو ډلې غوره او ټاکل کېږي چې د کتار د مخکینۍ برخې، د جناحینو او د کتار د شاتینۍ برخې ساتنه وکړي، او نور ناصر خپلې رمې او د اوښانو پادې پر مخ لېږدوي او د خپل دښمن د هر ډول برید په شا تمبولو ته چمتو وي. د وزیرو تهاجمي طبیعت ته په کتلو سره چې د اوږدمهالي دښمنۍ له کبله ئـې شدت موندلی دی ناصر باید خپل چمتووالی ولري ځکه چې وزیر نـهٔ غواړي چې یوه ټوټه ځمکه دې د ناصرو لاس ته وغورځي. (په ۱۸۹۴ – ۱۸۹۵ز کال کې د وزیرستان له سفر څخه راوروسته اوضاع او حالاتو زښت ډېر بدلون موندلی دی.) د «زیرکاني» [45] کوتل ته په رسیدلو سره دوی په دښتو کې خوارهٔ وارهٔ سي او د «لوړ سند» [46] له سرحده د «مَروَتو» [47] تر غرونو پورې په ټول «دامان» [48] کې سره تیت سي. هره ډله ځانته خپله مشخصه لاره لري، دوی په خپلو دغو لارو کې بلد دي چې چیرې خپلې کېږدۍ ودروي او چیرې د اړتیا وړ علوفه او واښـهٔ موندل کېږي. دوی خپلې کېږدۍ په ګردیو کړیو یا حلقاتو کې دروي او په مرکز کې ئـې د شپې له پلوه خپل څاروي دروي. د دوی ژوند دا مهال ستومانه او له لالهاندیو ډک دی. میرمنې ټول کارونه کوي، کېږدۍ دروي، لرګي راټولوي، اوبـهٔ راوړي، او ډوډۍ پخوي؛ نارینه یوازې له خپلو پسونو او اوښانو سره ګرځي او د دې کار لپاره یوازې څو تنه نارینه بس دي. د دوی په منځ کې شتمن کسان ئـې د خپلې اوږدمهالې دمه کیدلو په وخت کې خپل څاروي د پیولو لپاره

45 -Zirkani
46 -Upper Sind
47 -Marwatis
48 -Daman


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په کرایه ورکوي، خو د دې لپاره چې له ښاریو سره ئـې کوم څوک مل وي نو یو بې وزلی سړی ورته غوره کوي چې له ښاریو سره ئـې مل وي او دغـهٔ سړي ته د کرایې یو په دریمه ورکول کــېــږي. میرمنې هـېـڅکله نـهٔ پټېــږي خو ویل سوي چې ډیرې پاک لمنې او متواضع دي. کله چې په «تخت ِ سلیمان» [49] کې واروې ویلې سوې د ناصرو د کــېــږدیو د ډلو ټول مشران خیل خان ته ورځي چې د جرګې او مشورې لپاره ځای اووخت وټاکي؛ دوی په ټاکلي ورځ او وخت سره راټولیــږي او د بیرته ستنیدلو پر لاروچارو خبرې کوي؛ دلته یو ځل بیا مشران ټاکل کــېــږي او په مجردې چې خپلو کــېــږدیو ته ورسېــږي خپل ستنیدل پیلوي.»

ناصرو عادت درلود چې سیکهانو ته مالیات ورکړي؛ دا مالیات نـهٔ یوازې د راوړل سویو مالونو مالیات ول بلکه په دیره جاتو کې په ژمي او پسرلي کې په پووندو کې د اوښانو د آزادو څرلو د حق مالیات هم ول. په ۱۸۴۸ز کال کې کله چې جګړن ادواردز د کلاچي له سرحد څخه لیدنه کوله د ادواردز پاملرنې ته دا خبر ورسول سو چې یوهٔ «شهزاد ناصر»، د ناصرو مشر د هرډول مالیاتو له ورکړې څخه سرغړونه کړې ده او له همدې کبله ادواردز ئـې په دوه وو لارو کې پرېښود چې کومه غوره کړي؛ خو ادواردز خپله پښه دباندې وایستله. اداواردز پریکړه وکړه چې پر نوموړي قومي مشر د دهٔ د ډلې په منځ کې د شپې له پلوه برید وکړي او له ځان سره ئـې راولي. د دې چارې د ترسره کولو لپاره ادواردز د سپارهٔ ځواک د ۳۰۰ تنو سرتــېــرو په ملتیا خپل تګ له کلاچي څخه د شپې له پلوه پیل کړ، دا ۳۰۰ تنه سرتــېــري ټول درانیان او سیکهان ول؛ د شهزاد ناصر د کــېــږدیو څنګ ته په رسیدلو سره شا ته ګوري چې یوازې ۷۰ یا ۸۰ تــنـه سرتــېــري ورسره دي او پاتې نور ئـې په دې او هغې پلمې شا ته پاتې دي. له دې سره سره بیا هم جګړن ادواردز پریکړه وکړه چې د پلان سوي کار د بشپړولو لپاره باید پرمخ لاړ سي او خپلو سپرو ته ئـې وویل چې د ناصرو د کمپ شاته سره راټول سئ، له راټولیدلو وروسته اداواردز د ناصرو پر کمپ د برید بولنه ورکړه؛ خو بیا هم کله چې شا ته ګوري د ۷۰ یا ۸۰ تنو سپرو څخه یوازې ۱۵ تنه په دهٔ پسې دي. ادواردز د خطر په ګاللو سره پر مخ لاړ او په بله غاړه کې ئـې د ناصرو د اوښانو یوه پاده ومونده، دهٔ دا پاده د پووندې د مالیې په بدل کې راوتښتوله خو د ناصرو مشر وویل چې هـېــڅکله به د «سیکهانو او پیرنګیانو» [50] سپیانو ته مالیه ورنـهٔ کړي.

« د ۱۸۸۵ز کال د مارچ په میاشت کې د دیرهٔ اسمعیل خان د کمشنر مرستیال تورن کوکس راپور ورکړ چې د پووندە ناصرو او خروټو یوې ډلې چې له خراسان څخه د غرونو له منځه په راتــېــریدلو او له بېــرته تــېــریدلو وروسته د وزیرو د برید له کبله د پام وړ تلفات او تاوانونه لیدلي په دې فکر کې دي چې د خپلو خساراتو د جبران لپاره د دې مستحق دي چې د کوزو وزیرو د رمو او پادو له منځه یو شمــېــر پادې او رمې ترلاسه کړي؛ دوی په دې بریالي سول چې د وزیرو یو شمــېــر رمې او نور ښاروي له ځان سره یوسي.

د دې معلوماتو په رسیدلو سره تورن کوکس په پام کې درلودل چې پر شهزاد خان غږ وکړي او ټول وړل سوي ښاروي بیرته راوګرځوي؛ خو د کلاچي تهانه دار هغه دري تنه نیول سوي ناصر چې مخکې نیول سوي ول په خپل مسؤولیت د پنجاب د پینځم سپارهٔ ځواک قرار ګاه ته راواستوال. ناصر چې له داسې معاملې سره بلد نـهٔ ول او له وړاندیز سوې مداخلې څخه نور په تنګ راغلي ول ټولو له یوې مخې خپل مایملک او ښاروي واخیستل، غرونو ته لاړل او د برتانیې له قلمرو

49 -Takht i- Sulaiman
50 -dogs of Sikhs and Faringis


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځخه ووتل. د پنجاب د پینځم ځواک سپرو د جمعه خان په منځګړیتوب چې د ناصرو د زنګي خیلو له څانګي ځخه وو، نیول سوي کسان خوشي کړل او ټول هغه مال او څاروي چې ناصرو له ځان سره وړي ول، بیرته راستانـهٔ کړل.
تورن کوکس د دې ماجرا د پای د راپور په لړ کې له موږ سره د دواړو ډلو په اړوند کتنه لري. « موږ له وزیرو ځخه له مزاحمت او دښمنۍ پرته بل څه نـهٔ دي لیدلي. د وحشت، غلاوو، او بې رحمانه قتلونو اوږد لیست ته په کتلو چې په پرله پسې ډول تر سره کیدل ځرګندوي چې موږ باید ورسره کوم لطف او مرحمت ونـهٔ لرو. له بل لوري ناصرو موږ ته ډیـر ښـهٔ او له وفادارۍ ډک خدمات کړي دي. د اکثریتو کوتلو پر سرونو باندې د ناصرو نظارت او څارنه موږ ته د دې معنی لري چې د سرحد مرکزي برخه له کوچنیو بریدونو ځخه نسبي معافیت ترلاسه کوي او موږ د ناصرو مدیون یو؛ ناصرو په ۱۸۸۵ز کال کې د وزیرو له سیمې ځخه د «ټانک» پر سیمې باندې د برید مخه ډب کړه، د ناصرو قبـیـلـې د خپلو وسلوالو جنګیالیو یوه لویه ډله د سرحد د دفاع لپاره راولېـږله؛ او که موږ هر کله وربانديې غږ وکړو نو د همداسې مرستې له غځولو ځخه سپما نـهٔ کوي.» (الفنستن، براد فوټ، لمسدن، اداوارډز، کوک، مک موهن)

* **نـاصر**: ۴ ــ ۳۴، ۲ ــ ۶۹ «ن»: دا د لوګر په ولایت کې د لوګر د سیند د غاړې په اوږدو کې کمال خیلو ته نېـږدې یو کلی دی.

* **نسدره**: [51]: ۵۳ ــ ۳۴، ۲۸ ــ ۶۹ «ن»: دا پروان په ولایت کې د الکوزیو په سویل کې د پنجشیر د سیند د یوې څانګې په اوږدو کې یو کلی دی.

**نشــهٔ ګام**: یا: نیشه ګام : [52]: ۸ ــ ۳۵، ۲۳ ــ ۷۱ «ن»: دا د کونړ د سیند د ښی غاړې په اوږدو کې یو کلی دی چې له جلال آباد ځخه ۸۵ مایله لیرې دی. (کولد ستریم)

* **نشر**: [53]: دا د بامیانو په ولایت کې د «دریای بند امیر» [54] د یوې څانګې په اوږدو کې یو کلی دی.

**نصیر محـمد**: ــ ۳۴، ــ ۶۸: دا یو کلی دی چې د «لکړۍ» له کوتل ځخه د ګندمک پر لور له لومړي مارش وروروسته واقع دی. دا کلی د سرخاب د سیند د یوې څانګې د غاړې په اوږدو کې موقعیت لري. (کولت)

**نصرت**: وګورئ: نرۍ

**نو روزبیګ**: دا د بهسود هزاره ګانو د «کپته سان» [55] د څانګې یو ټبر دی.

**نـاوه** :دا د دایزنګي په سیمې کې په دراز قول کې یو کوچنی کلی دی. د «ناوه نادک» [56] په نوم یو ځای په ۳۸ ــ ۳۳، ۵۶ ــ ۶۶ «الف» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

---

[51] -NASDARA
[52] -NASHAGAM Or NISHAGAM
[53] -NASHAR
[54] -Daria-i-Band -i -Amir in Bamian province
[55] -Kaptasan Besud Hazaras
[56] -Nawa Nadak


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **ناوه**: ۱۹ – ۳۲، ۵۳ – ۶۷ : ناوه د غزني دولایت یوه ولسوالي ده چې ۲۵۵۴ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې چې بزګري پرګني دي د ۶۴۲۴ تر ۲۰۲۸۰ تـنو پورې اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لویدیځ لوري له وازې خوا، له شمال ختیځ لوري له «دیله»، له شمال لویدیځ لوري له «ګیلان»، له لویدیځ لوري له شاه جوی او له سویل لوري له شینکي او شملزیو سره کرښه لري. ناوه ۵۳ کلي لري چې ۱۰ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېــر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اختیار خیل | | قریـهٔ آندي | Qarya -i -Andi | بکول خیل | Bakol Khel | بُرجِ رحمن | |
| ابراهیم شاه خیل «بهرام شاه خیل» | | پووتي | Powati | پتاب | Petab | پتابي ملک دین | |
| تور کوځی «ترګوش» | | Tor Kotsay (Targosh) | | قریـهٔ تلخاني | | تنګي چادر | |
| قریـهٔ آخوند صاحب | | قریـهٔ چینه | | قریـهٔ حسن خیل | | قریـهٔ خواجه خیل | |
| خوشحال «خوشاني» | | دادا خیل «دادو خیل» | | زرین خیل | | سید خیل | |
| قریـهٔ صالح | | سور | | هلوي خیل «علیاخیل» | | Hawli Khel (Ulya- Khel) | |
| غیزونګی | Ghaizogai | غیبي خیل | | قاسم خیل | | قلعـهٔ خان | |
| قریـهٔ محمد سرور | | قریـهٔ محمد عزیز | | قریـهٔ کالو خیل | | کمیس خیل | Kamis Khel |
| قریـهٔ کالا خان | Qarya -i -Kala Khan | قریـهٔ ګره | Qarya -i- Garah | قریـهٔ ګیجان | Qarya -i- Gajiyan | قریـهٔ ګارَو جان | Qarya -i -Garaw Jan |
| قریـهٔ ګاو رانده | | Qarya -i- Gawranda | | موته خیل | Mota Khel | محمد خیل | |
| قریـهٔ منصور | | قریـهٔ ننګه | Qarya -i- Nanga | جمال خیل | | قره الدین | Kara -woddin |
| ببري کلان | | ببري خورد | | قریـهٔ حاجي الوان | | قریـهٔ سلیمک «یل مَک» | |
| قریـهٔ سکیره | Qarya -i- Sakirah | قریـهٔ لالي زي | | قریـهٔ زړه «قریـهٔ کهنه» | | Qarya- i -Zala (Qarya- i- Kohna) | |
| قریـهٔ قاهتِ صافي | | Qarya -i- Qahat -i -Safi | | قلعـهٔ رحمن | | قلعـهٔ بُرج | |
| قلعـهٔ هوسي | Qala -i- Hawsi | کانک جمال «کانک» | | Kanak Jamal (Kanak), | | لعل محمد خیل | |
| انګو | Ango, | بزل خیل | Bazel Khel | خان خیل | | بابولي | Babuli |
| ترهي | Tarhi | سادوخیل «شادو خیل» | | سیف الدین خیل | | فیض محمد | |
| هولي خیل | Howli Khel | هارون | | قلعـهٔ محمد انور | | جالو خیل | Jalo Khel |
| هوتک | | ځاله/ ځلا | Zala | سکندر خیل | | | |

* **ناوه**: ۴۹ – ۳۴، ۸ – ۶۸ «ن»: دا د «چارکته» [57] د سویل په نبـږدې ۲ مایلۍ کې د غوربند د سیند د یوې څانګې په اوږدو کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د کونړ په ولایت کې د «نرنګ» په سویل ختیځ کې د پاکستان پولې ته نبـږدې په ۴۴ – ۳۴، ۹ – ۷۱ «ن» کې موقعیت لري.

**ناوه آغه**: وګورئ: ناوغی/ ناوه ګی

**نواب**: ۳۹ – ۳۲، ۵۲ – ۶۸ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د ګومل د شمال په شاوخوا ۱۲ مایلۍ کې د ګومل د سیند په اوږدو کې یو کلی دی.

---

[57] -Charkata



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

**نواب کلا:** ــ ۳۴، ــ ۶۸: دا د کابل د سیند د پورتـنی برخې په کیڼې غاړه کې د جلریز د لویدیځ په نېـږدې ۴ مایلی کې یو کلی دی. (ونلیس)

**نوچ:** وګورئ: نوچ

**ناوه ګۍ:** ــ ۳۴، ــ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د کامي په علاقه داری کې یو کلی دی چې د «لنده بچ» [58] په شمال کې او ورته نېـږدې واقع دی. استوګن وګړي: د «کونړ» سیدان. (جنکینز)

**ناوهٔ رحیم:** دا د دایزنګي د لال د علاقه داری د «کشرآو» [59] په سیمې کې یو کلی دی.

**ناوَک:** وګورئ: پریان: په دې نوم یو کوتـل د پروان په ۴۶ ــ ۳۵، ۲ ــ ۷۰ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**ناوه لیچ:** [60]: ۲۱ ــ ۳۵، ۳۳ ــ ۶۹: دا د پنجشیر په برنـي منځغري کې یو کلی دی چې له بازارک ۳ مایله پورته د پنجشیر د سیند د ښی غاړې په اوږدو کې واقع دی. دې کلي کې د تاجیکانو ۲۰ کورونه دي. (شهزاده تیموس)

**ناور:** دا په هزاره جاتو کې یوه لویه دره ده.

**ناور** (نو آر) : [61]: ــ ۳۳، ــ ۷۰: دا په خوست کې یو کلی دی چې د متون له شماله مخ پر ختیځې خوا په شاوخوا ۱۵ مایلی کې موقعیت لري. دې کلي ته نېـږدې د کمپ وهلو لپاره ښه وچ ځای سته. له دې ځایه وابښـهٔ نـهٔ ترلاسه کـېـږي خو بهوسه په کې ډېـره ده؛ اوبـهٔ ئـې پریمانه دي خو سون توکي په کې په قلت دي. (آی. بي. سي) اوسنی نقشې د «نار» نوم په ۳۰ ــ ۳۳، ۱ ــ ۷۰ «ن» کې ښیي. (لودویګ آدمک)

**ناور لام:** [62]: ۳۹ ــ ۳۴، ۱۰ ــ ۷۰ «الف» : دا په لغمان کې یو کلی دی چې د الیشنګ د سویل ختیځ په تقریباً ۲ مایلی کې د سیند د کیڼې غاړې په امتداد کې واقع دی. استوګن وګړي ئـې د ګډو قومونو وګړي دي. (واربرتن)

**ناوه آجرستان:** وګورئ: هزاره ګان

**ناوی:** [63]: ــ ۳۴، ــ ۶۸: «قلعـهٔ قاضي ناوي» [64] د غوربند په درې کې له «بیني سِهوَک» [65] نیم مایل کوز واقع او لس کورونه لري. له قلعـهٔ قاضي ناوي کوز دره د ۲/۱ ــ ۱ مایل په اندازه ارت والی مومي او ډېـره کرل سوې چې بې شمـېـره کلي او د میوو بڼونه لري. د درې همدا پراخه برخه د «ناوي» په نوم یادېـږي. (پیکاک) په دې نوم نور ځایونه په ۴ ــ ۳۴، ۴ ــ ۶۸ او ۵۶ ــ ۳۴، ۲۹ ــ ۶۹ کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

---

58 -Landabuch
59 -Kishrao
60 -NAWALICH
61 -NAWAR (NOAR)
62 -NAWAR LAM
63 -NAWI
64 -Kala Kazi Nawi
65 -Bin-i-Sehwak


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **ناوُر**: یا: ناوَر: [66]: ۳۳ ـ ۳۴، ۱۶ ـ ۶۷ «ن»: دا د باميانو په ولايت کې «پن قاش» [67] ته نېـږدې يو کلی دی. په دې نوم يو بل ځای د غوربند د سيند په اوږدو کې د پروان په ولايت کې د شيخ علي په شمال ختيځ کې په ۵۹ ـ ۳۴، ۳۳ ـ ۶۸ «ن» کې موقعيت لري.

نور بيا

**ناوُر: یا: ناوَر: ۵۰ ـ ۳۳، ۴۵ ـ ۶۷ : ناوُر د غزني د ولايت يوه ولسوالي ده چې...**

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

[66] -NAWUR Or NAWAR
[67] -Panqash


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ